مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نو یسنده لزوما نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۰۶/۱۸

# د صبر پیمانه

نه پو هیږم چی دا څنــــګه زمانه شوه
چی بدله آشــــنا یي او یارانه شـــوه
له کینو نه زړونه ډک په هري خوا دي
د کعبی د زړونو جوړه، بتـــخانه شوه
هسی سوز او په ګداز کــي ،آوازه شوم
چی حیرت کي راته شمع و پروانه شوه
بی عقلان سر قافلی د کـــاروان شول
لاره ورکـــه له عاقل، او فرزانه شوه
انتظـــــار د سولي دومره یو، زبیښلی
چي مو تـــشه نور د صبر پیمانه شوه
بلبـلان وايي د ویرنغمی،چمـــن کي
څـکــــه هیره یي د مینی ، ترانه شــوه







افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ